# د چاپېريال ساتنې سټنډرډونو د تدوين تخنيکي کمېټه TC-14

## تاريخچه

د چاپېريال ساتنې سټنډرډونو د تدوين تخنيکي کمېټه په (۱۳۸۹/۹/۳۰هـ ش) کال کې د سټنډرډونو د تدوين او ساختماني ملي کوډونو د رياست په چوکاټ کې ايجاد او د خپلې کمېټې د لومړۍ غونډې په نيولو سره يې په فعاليت پيل وکړ. (۳۶) سټنډرډونه د سټنډرډ عالي شورا له تصويب وروسته د ملي سټنډرډونو په توګه منظور شول.

## ټوليز فعاليتونه

ـ د سټنډرډ عالي شورا له لوري د (۳۶) سټنډرډونو تصويب

ـ د چاپېريال ساتنې کمېټې له لوري د (۳۲) ملي سټنډرډونو تدوين او نهايي کول.

## په کمېټه کې مرستندويه بنسټونه

- د چاپيريال ساتنې ملي اداره د کمېټې د رييس په توګه
- د کانونو او پطروليم وزارت د غړي په توګه
- د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت د غړي په توګه
- د اوبو او انرژۍ وزارت د غړي په توګه
- د ښار جوړونې او ځمکو وزارت د غړي په توګه
- د عامې روغتيا وزارت د غړي په توګه
- د کابل ښاروالي د غړي په توګه
- د افغانستان د علومو اکاډمي د غړي په توګه
- د کابل پوهنتون د چاپېريال ساتنې پوهنځی د غړي په توګه
- د کابل پوهنتون د ځمکې پېژندنې پوهنځی د غړي په توګه
- د سټنډرډ ملي اداره د سکرټر په توګه

## ټوليزې دندې

ـ د اړتيا وړ سټنډرډونو ته لومړيتوب ورکول

ـ د تخنیکي کمېټې د کاري پلان جوړول

ـ تر پلان لاندې سټنډرډونو د تدوین لپاره د موادو د راټولولو او اقتباس په موخه د اړتیا وړ سرچینو ټاکل

ـ تر پلان لاندې سټنډرډونو پر مسوده بحث او د نظرونو وړاندې کول

ـ تر پلان لاندې سټنډرډونو د مسودې نهایي کول

- ـ پر ملي سټنډرډونو یو ځل بیا نظر اچول